گرانو ملگرو هر چېرته چې یاست (له حدیث شریف سره اوسئ) خپرونې نوې حلقې ته ښه راغلاست!
خپرونه د اسلام علیکم ورحمت الله و برکاته په وړاندې کولو سره پیلوم:

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي:**




**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا»**
(حاشية السندي، في شرح سنن ابن ماجة)

***ژباړه:*** *له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: پر څه مې چې امر درته کړی، هغه واخلئ (ترسره يې کړئ) او له څه مې چې منعه کړي یاست، ډډه ترې وکړئ.*

**د حديث شرحه:**

پورتنی حديث د لاندې آيت تفسير دی:

**﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾** [حشر : ۷]

علامه سيوطي ويلي دي: د «ما» لفظ په دواړو ځايونو (آيت او حديث) کې د شرط توری دی، يعنې پر وجوب او ندب عمل پکې شامليږي او همدارنګه د نهی لفظ کې تحريمي او تنزيهی ممنوع هم شامليږي، که څه هم ځينو دغه امر او نهی په وجوب او تحريم نقل کړي دي.

د الله سبحانه وتعالی ډېر شکر دی، چې موږ يې د ځمکې پر مخ د خپلو احکامو د پلي کوونکو له ډلې څخه ګرځولي يو، نو په امت کې داسې کسان شته، چې د بحث وړ حديث او آيت منطوق يې ښه درک کړی او د شريعت پر حقيقت د تاکيد پر ټولو مواردو ښه پوهېږي او هغه دا چې د اسلام بشپړ تطبيق واجب دی، که له يوه حکمه پرته ټول اسلام پلی شي داسې مثال لري لکه يو کس چې د اسلامي احکامو د پلي کېدو اراده ولري، بيا ووايي زه د غلا او د غله د لاس پرېکولو له حکم پرته د اسلام ټول احکام، د زوجينو له يو ځای پرېوتو څخه تر بهرنی سياست او د دولتونو تر اړيکو پورې مراعتوم، دغه کس په حرامو کې واقع شوی دی او ګويا چې هېڅ اسلام يې نه وي پلی کړی. دا د حديث منطوق دی چې فرمايي: «مَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا»

پر دغه اساس د «ما» لفظ له عمومي الفاظو څخه دی او د شریعت ټول احکام په بشپړه توګه پکې شاملېږي، ځکه په دغه ځای کې امر د وجوب لپاره دی.

**والسلام علی من اتبع الهدی**